# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د جولای شپږمه | ۵٦۲مه گڼه


## ولایت

۴ مخ

### بلخ

په دې وروستیو کې د کانونو وزارت او د امریکا د تحقیقاتي مرکز په مرسته د شوې سروې له مخې، د بلخ شمال لور ته د امو سیند په اوږدو کې، چې پیل یې له چهاربولک ولسوالۍ څخه کېږي، د نفتي موادو ٦ کانونه کشف شوي چې کلنی اټکل یې ٦،۸ میلیونه بېلره دی.



## په میدان وردگو کې د ٦۵ میلیونو افغانیو په لگښت سل بستریز روغتون جوړېږي



د میدان وردگو ولایت په مرکز میدان ښار کې د ٦۵ میلیونو افغانیو په لگښت په دوو میاشتو کې سل بستریز روغتون جوړېږي. د میدان وردگو د عامې روغتیا رییس ډاکتر محمد سالم اصغرخېل  ویلي چې دغه روغتون پر اووه نیم جریبه ځمکه جوړېږي. د هغه د معلوماتو له مخې، د روغتون ودانۍ به یوه پوړیزه وي او پر اړینو طبي وسایلو به هم سمبال شي. هغه زیاته کړې چې د دې پروژې ٦۵ میلیونه افغانۍ لگښت د ولسمشرۍ مانۍ اړوند د ملي پراختیا شرکت ورکوي.

اصغرخېل ویلي چې په دغه روغتون کې به پر کرونا ویروس د اخته کسانو پر تشخیص او درملنې سربېره د نورو ناروغانو درملنه هم کېږي.  په ورته وخت کې د یاد ولایت والي مظفرالدین یمین د یاد روغتون د ودانۍ د بنسټ ډبرې اېښودو پر مهال له ولسمشر او عامې روغتیا له وزارت څخه مننه کړې او په خبره یې، د دغه روغتون په جوړېدو سره به د کرونا پر وړاندې مبارزه نوره هم پیاوړې شي

# د روسیې او امریکا نانديرۍ؛

## روسیه: امریکایي استخبارات په افغانستان کې د نشه يي توکو په قاچاق کې ښکېل وو



۳

### د بندیانو خوشې کول او بیا هم ځنډ

۲ مخ

### د پولو بیا پرانیسته او پر افغان صادراتو یې اغېز

۲ مخ

### جمعیت گوند؛ له اخواني ارمانونو تر قومي دریځونو

۳ مخ

## د زندانونو د تنظیم اداره: د پنځو زرو طالب زندانیانو له ډلې ۵۹۷ یې نه خوشې کېږي

د افغانستان د زندانونو د تنظیم اداره وایي چې د پنځو زرو طالب زندانیانو له ډلې ۵۹۷ هغه یې نه خوشې کېږي.  دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې وه د امریکا او طالبانو ترمنځ د شوې هوکړې له مخې، پنځه زره طالب زندانیان د افغان حکومت له زندانونو خوشې شي، خو د زندانونو د تنظیم اداري رییس احمد راشد طوطاخیل وایي، په هغه لېست کې چې د طالبانو له لوري افغان حکومت ته سپارل شوی، د داسې زندانیانو نومونه هم شته چې د جنايي او اخلاقي جرایمو په تور نیول شوي دي، خو طالبان بیا دا ادعا چې گوندې د دوی په لېست کې د اخلاقي جرایمو زندانیان هم شامل دي، ردوي او ټینگار کوي چې حکومت باید د دوی د لېست پر بنسټ ۵ زره زندانیان ټول خوشې کړي. په ورته وخت کې ولسمشرۍ مانۍ وایي، د بین الافغاني خبرو پیلېدو ته ژمن دي، خو زیاتوي چې د طالبانو لخوا د ټولو امنیتي سرتېرو ازادول هم ورته لومړیتوب لري. د ولسمشر غني ویاند صدیق صدیقي پر خپل ټوېټر لیکلي چې د طالبانو له زندانونو څخه د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ازادول د بندیانو د تبادلې بهیر د یو عمده اصل په توگه مهم دي. هغه په دې اړه لیکلي: «د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په هېواد کې د جنگ د پای ته رسېدو او د سولې او ثبات د تامین لپاره له ځنډ پرته د سولې مذاکراتو پیل ته ژمن دی، خو له طالبانو څخه د امنیتي او دفاعي ځواکونو د ټولو اسیرانو ازادول د دولت او ملت لپاره د زندانیانو د تبادلې پروسې د ډېر عمده اصل په توگه مهم دي.»

## د سناتورانو پرله پسې رخصتۍ او غیابت د شرم وړ دی



۵ مخ

## والي هرات: نود درصد درآمدهای گمرک هرات از سوی مافیا حیف‌ومیل می‌شوند



سید وحید قتالی، والی هرات می گوید که نود درصد درآمدهای گمرک این ولایت از سوی مافیا حیف‌ومیل می‌شوند.

آقای قتالی می‌افزاید که این مافیا در کابل، هرات و داخل گمرک اسلام‌قلعه حضور فعال دارد و روزانه ده‌ها میلیون افغانی از درآمدهای گمرک را به جیب می‌زند. او می افزاید: «ده درصد کالای تجار می‌آید و نود درصد دیگر در اختیار مافیا قرار داده می‌شود و از هر محموله سه میلیونی تنها پنجاه هزار افغانی تحویل داده می‌شود؛ از هر محموله که سه میلیون تکس دولت تحویل داده شود، تنها ۳۰هزار تحویل داده می‌شود.»

به تازه‌گی ده‌ها موتر حامل کالاهای وارداتی در یک روز از سوی نیروهای امنیتی در هرات متوقف شده‌اند که به گفتهٔ والی هرات، تمامی این موترها از پرداخت محصول گمرکی فرار داده شده‌اند و این، نمونه‌یی از فساد در گمرک این ولایت است.

اعضای شورای ولایتی و برخی فعالان جامعه مدنی در هرات می‌گویند که برخی از مقام‌های حکومتی در فساد مالی در گمرک این ولایت دست دارند و با مافیا هم دست استند.

توریالی طاهری، معاون شورای ولایتی هرات بیان داشت: «روزانه تا چهل و پنجاه میلیون عواید ملی کشور حیف‌ومیل می‌شود. یک حلقهٔ بزرگی استند کسانی که دست به فساد می‌زنند. اراکین بلندپایه دولت هم از هرات تا مرکز در این حلقه استند.» بخش خصوصی در هرات نیز می‌گوید که واردات کالاهای مشابه و فرار از محصولات کمرگی به‌علت فساد در گمرک این ولایت، صنعت و تولیدات داخلی را در این ولایت سخت آسیب زده است.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

### د بندیانو خوشې کول او بیا هم خنډ

تمه وه چې پرون به حکومت د طالبانو پاتې زر بندیان هم خوشي کړي او په دې سره به بین الافغاني خبرو ته لاره هواره شي، خو حکومت یوازې څلور سوه نور بندیان خوشې کړل او د شپږ سوه بندیانو له خوشې کولو یې انکار وکړ. حکومت استدلال کوي چې د طالبانو په لېست کې ۵۹۷ جنایي بندیان دي چې دوی یې نه خوشې کوي. له دې سره د بندیانو د خوشې کولو لانجه غځېدلې ده.

د بندیانو نه خوشې کول په ظاهره د جګړې د اوږدېدو سبب ګرځېدلي دي؛ ځکه طالبان وایي چې هغه وخت بین الافغاني خبرې پیلوي چې پینځه زره بندیان یې خوشې شي. حکومت په پیل کې د بندیانو خوشې کولو ته حاضر نه و، خو ورو ورو یې دریځ بدل شو او د بندیانو خوشې کولو خبره تر دې ځایه را ورسېده چې اوس ۴۴۰۰ بندیان خوشې شوي دي. پاتې ۶۰۰ بندیان چې حکومت یې نه خوشې کوي، حتمي به خوشې شي؛ ځکه چې دا د امریکا او طالبانو د توافق برخه ده او حکومت به د امریکا د غوښتنې پر اساس له یو څه فشار وروسته دا بندیان حتمي خوشې کوي. دا معلومه ده چې حکومت پر خپل دریځ تر پایله نه شي پاتې کېدلی، خو له بده مرغه د دې خنډ قرباني ولس ورکوي. که دا بندیان د مارچ تر لسمې خوشې شوي وی، اوس به په بین الافغاني خبرو کې پوره پرمختګ شوی و، پر اوربند به توافق شوی و او آن د دې شونتیا ډېره وه چې د سولې خبرې پایلې ته رسېدلې وی او جګړه یو مخ ختمه شوې وی. د بندیانو د خوشې کولو په اړه د حکومت هغه دریځ چې بدل شو او حکومت ته یې هېڅ ګټه ونه کړه، د جګړې د دوام او زرګونو افغانانو د وژنې سبب شو.

اوس به بیا هم د حکومت دریځ حتمي بدلېږي، خو له بده مرغه دا بدلون به د افغانستان د ګټو پر اساس او د افغانانو په غوښتنه نه وي، بلکې د امریکایي فشارونو او ګټو پر اساس به وي. حکومت چې اوس کوم استدلال کوي، ناسم دی. وایي، د طالبانو په لېست کې جنایي بندیان دي. که دا ادعا سمه هم وي، حکومت خو مخکې ډېر جنایي بندیان هم د کرونا له امله خوشې کړل، نو دا دې هم خوشې کړي. له بده مرغه د حکومت په دریځ کې نه عقلانیت شته او نه هم د افغانستان د سترو ګټو او مصلحتونو پر اساس دی او زیان یې هم افغانانو ته اوړي.

د حکومت له کړنو او دریځونو ښکاریږي چې د سولې پر وړاندې د خنډ جوړولو هڅې کوي. که څه هم دا هڅې بریالۍ نه دي او امریکایان جوړېدونکي خنډونه او ستونزې یو پر بل پسې لرې کوي، خو حکومت بیا هم دا هڅې کوي. پکار ده چې دا هڅې نورې ودرول شي؛ هغه کارونه چې حکومت یې د امریکا د فشار له امله حتمي کوي او اړ کېږي چې ویې کړي، ښه ده چې د افغانانو په غوښتنه او د سولې په نیت یې وکړي. دا چاره به هم د حکومتي چارواکو په اړه د خلکو ذهنیت مثبت کړي او هم به له سولې او ثبات سره مرسته وکړي.

# د پولو بیا پرانیسته او پر افغان صادراتو یې اغېز

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د کرونا وبا له امله د نړۍ په سطحه ډېر هېوادونه د نورو برخو تر څنګ د صادراتو او وارداتو په برخه کې سخت وځپېدل. د افغانستان لویه کچه صادرات چې ګاونډي هېواد پاکستان ته تر سره کېدل، د روان کال له مارچ میاشتې څخه د جون تر ۲۲مې نېټې پورې یاد هېواد ته د کرونا وبا د خپرېدو وېرې له امله د پاکستاني لوري لخوا بند کړای شوي وو. له دې وړاندې هم پاکستان د مختلفو لاملونو له کبله له افغانستان سره خپلې ګډې پولې د افغان صادراتو پر وړاندې تړلې وې، چې له امله یې افغان سوداګرو ته په لویه کچه زیانونه اوښتي وو. د CSRS په دې تحلیل کې مو له ګاونډي هېواد پاکستان سره د صادراتو په برخه کې د پرتو ستونزو په حل لارو او د هېواد پر صادراتو د پولو د پرانیستلو پر اغېزو بحث کړی دی.

**د افغانستان صادراتو ته ځغلنده کتنه**

د افغانستان صادرات چې د ناخالصو کورنیو عوایدو ۲۰ سلنه جوړوي، تر ټولو کمه کچه یې ۶۹.۱ او تر ټولو لویه کچه یې ۸۷۵.۲۴ میلیونو ډالرو ته رسیږي او په ۲۰۱۹ ز کال کې د افغان صادراتو کچه ۸۶۳.۸۳ میلیون ډالرو ته رسېده، چې د نړۍ په سطحه د زیاتو صادروونکو هېوادونو له ډلې په ۱۴۱مه شمېره کې ځای لري.

افغانستان د صادراتو په برخه کې انګور، نورې تازه او وچې میوې، سبزیجات، قالینې، د ډبرو سکاره، قیمتي ډبرې او ځینې نور مختلف شیزونه ځینو هېوادونو ته د سلنې په حساب په لاندې توګه صادروي چې د هغې له جملې:

پاکستان ته (٪ ۴۲.۹)، هند ته (٪۴۰.۶)، چین ته (٪ ۳.۲)، ترکیې ته (٪ ۲.۵)، ایران ته (٪ ۲.۳)، عربي متحده امارات ته (٪ ۱.۸)، عراق ته (٪ ۱،۵)، تاجکستان ته (٪ ۰.۸) سعودي عربستان ته (٪ ۰.۷)، جرمني ته (٪ ۰.۶) او قزاقستان ته (۰.۵) سلنه صادرات لري.

که د لویو وچو په حساب د افغانستان صادرات پرتله کړو، نو آسیایي هېوادونو ته ٪ ۹۸.۱، اروپایي هېوادونو ته ٪ ۱.۴، شمالي امریکا ته ٪۰.۴، استرالیا ته ٪ ۰.۱ او افریقا ته (۰.۰۲) سلنه صادرات لري.

د افغانستان صادرات د وارداتو په پرتله خورا ډېر کم دي او ټول صادرات د وارداتو ۵ سلنې ته رسیږي.

**پاکستان ته د افغانستان صادرات**

افغانستان چې په وچه کې راګیر هېواد دی، د صادراتو په برخه کې وخت په وخت له پراخو ستونزو سره مخ شوی دی. سیاسي او امنیتي حالات هغه څه دي چې ډېر ځله یې د دې هېواد په صادراتو مستقیمه منفي اغېزه کړې ده. د بېلګې په توګه، د افغانستان زیاتره صادرات چې له ګاونډي هېواد پاکستان سره دي، په مختلفو وختونو کې کله چې له یاد هېواد سره د افغانستان ډیپلوماټیکې اړیکې خرابې شوې او یا کومه تروریستي پېښه په پاکستان کې تر سره شوې، نو په ټوله کې د دواړو هېوادونو په سوداګریزه راکړه ورکړه او په ځانګړې توګه د افغانستان پر صادراتو یې منفي اغېزې کړې دي او افغان سوداګرو ته یې په میلیونونو ډالر زیان ور اړولی دی، ځکه پاکستان د افغان سوداګرو پر وړاندې خپلې پولې تړلې او پر افغان حکومت یې پړه لګولې چې ګواکې تروریستي حملې په افغانستان کې پلان شوي دي.

که څه هم د پاکستان او افغانستان تر منځ له ۱۹۶۵ ز کال راهیسې د Afghanistan) (Pakistan transit trade agreement یا (APTTA) په نوم دوه اړخیزه تړون لاسلیک شوی، کوم چې په ۲۰۱۰ ز کال کې پرې بیاځلي کتنه وشوه. د کوم له مخې چې افغان سوداګر کولی شي خپل سوداګریز توکي د پاکستان له لارې هند ته او همدارنګه افغانستان ته راولېږدوي او په مقابل کې پاکستانیو لاریو ته د افغانستان ټولو برخو ته د سوداګریزو توکو د لېږدولو اجازه ورکړل شوې ده. خو که وکتل شي پاکستان تل هڅه کوي چې د افغانستان په وچه کې د راګیرېدو نه په ګټې اخیستنې سره دا تړون په یو اړخیزه توګه پلی کړي او همدا لامل دی چې د افغان صادراتو پر وړاندې یې ډېرې ننګونې راولاړې کړې دي.

افغانستان د پاکستان لپاره تر ټولو نږدې او اقتصادي مارکېټ په توګه قرار لري او افغانستان خپل ډېر واردات له همدې هېواد څخه تر سره کوي. که له بلې خوا وکتل شي د افغانستان د صادراتو لپاره بیا پاکستان تر ټولو نږدې او اقتصادي مارکېټ په توګه ځای لري. ولې د دواړو هېوادونو تر منځ د بې باوریو له امله دغه اقتصادي فرصت ډېر ځله له خنډ سره مخ شوی او په پایله کې یې د دواړو هېوادونو سوداګرو ته په پراخه کچه مالي زیانونه اړولي دي.

کله چې په ۲۰۱۴ ز کال کې پاکستاني ځواکونو په وزیرستان کې چانیز عملیات پیل کړل، نو له افغانستان سره یې د غلام خان بندر وتاړه. له دې پرته د تورخم او چمن سوداګریزې پولې هم د پاکستاني لوري لخوا د تروریستي حملو تر سره کېدو، سیاسي اړیکو خرابولو او ځینو نورو لاملونو له کبله وخت په وخت د افغانستان پر وړاندې تړل شوې دي.

د روان کال له مارچ میاشتې راهیسې پاکستان خپلې ټولې پولې له افغانستان سره د کرونا ویروس خپرېدو د وېرې له کبله په هر اړخیزه توګه وتړلې. که څه هم کوویډ-۱۹ په نړیواله سطحه یوه وبا وګڼل شوه، په لومړیو کې یې د پلازمېنې کابل په ګډون په ځینو نورو ولایتونو کې د توکو بیې خورا لوړې کړې، ځکه له یوې مخې له پاکستان څخه افغانستان ته د وارداتو مخه ډب کړای شوه او له بلې خوا د افغانستان صادرات هم له ستر خنډ او ځنډ سره مخ کړای شول.

خو د پاکستاني چارواکو په خبره، د افغان چارواکو په غوښتنه یې یوازې افغانستان ته له پاکستان څخه د وارداتو په برخه کې په لومړیو کې په اونۍ کې د دریو ورځو لپاره د چمن او تورخم پولې پرانیستلې. د جون په ۲۰ مه د پاکستان بهرنیو چارو وزارت ویاندې عایشې فاروقي څرګنده کړه چې هېواد به یې د افغانستان په غوښتنه او د انساني همدردۍ پر بنسټ، د جون میاشتې په ۲۲مه د تورخم، چمن او غلام خان بندر سوداګریزې لارې په اونۍ کې شپږ ورځې د دواړو هېوادونو سوداګریزو توکو پرمخ او یوه ورځ به یادې لارې د دواړو هېوادونو مسافرو پر وړاندې پرانیستې وي. خو که وکتل شي د لارو بیا ځلې پرانیسته نه یوازې افغانستان؛ بلکې د پاکستان ولس او حکومت ته هم ستره ګټه رسولې شي.

**د افغانستان صادراتو پر وړاندې ستونزې**

افغانستان چې زیاتره تازه او وچې میوې او سبزیجات صادروي، د افغان بڼوالو او سوداګرو لپاره د پراخو عوایدو په توګه پېژندل کېږي. افغان حکومت که څه هم د صادراتو په برخه کې د ستونزو حل کولو په اړه څرګندونې تر سره کوي، خو بڼوال او سوداګر بیا په حللارو پسې سرګردانه ګرځي.

ډېر کله داسې شوي چې د تازه میوو موسم په وخت کې بڼوال آن دې ته زړه نه ښه کوي چې خپل د تازه میوو حاصلات د ټیټو بیو له کبله بازار ته وړاندې کړي، ځکه بازار ته د وړاندې کولو مصرف کچه یې د پلورل شویو میوو له عاید څخه هم ښکته راځي. د بېلګې په توګه، د فراه ولایت کروندګر هر کال نیوکې کوي چې د تازه میوو په موسم کې د یوې کیلو هندوانې بیه یوې افغانۍ ته رسېږي او دا کار کروندګر له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ کوي.

د پاکستاني لوري لخوا په افغان صادراتو د مالیې زیاتوالی، د ټولو او یا ډېرو لاریو چک کول، چې د زیات وخت نیولو له کبله تازه میوې ورسره خرابېږي او له منځه ځي. افغان توکي له پاکستان څخه بېرته افغانستان ته د پاکستان په نوم راوړل او د حکومت لخوا د صادراتو په برخه کې اغېزمن پلانونه نه درلودل ښایي نور هغه لاملونه اوسي، چې د افغانستان صادرات یې له ستونزو سره مخ کړې دي.

**پایله**

له کرونا وبا څخه تر پېښ خنډ او ځنډ و رهاخوا چې ټوله نړۍ یې په اقتصادي او سوداګریز ډګر کې ولړزوله، اړینه ده چې پاکستان دې ته وهڅوي څو د APTTA تړون په دوه اړخیزه توګه پلي کېدو ته ژمن پاتې شي، څو د دواړو هېوادونو سوداګریزه راکړه ورکړه د وختي مسایلو او سیاسي بې باوریو ښکار نه شي. که څه هم له ۲۰۱۴ ز کال را وروسته چې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شمېر تر ډېره ښکته شوی او دې هرڅه د پاکستان او افغانستان پر سوداګریزه راکړه ورکړه هم منفي اغېزې لرلې دي. له افغانستان څخه د پاتې بهرنیو ځواکونو له وتلو سره ښایي افغانستان د صادراتو په برخه کې له نویو ستونزو سره مخ شي، ځکه د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته سیاسي لانجې، د بهرنیو اسعارو (ډالرو) کمېدل او نا امني ښایي هغه لاملونه وي چې د افغانستان اقتصاد په خورا لویه کچه وګواښي. نو په همدې بنسټ افغان حکومت باید د صادراتو او وارداتو په برخه کې په شته پالیسیو بیاځلې ژوره کتنه وکړي. که څه هم تر دویم ځل ولسمشر کېدو وروسته ولسمشر محمد اشرف غني بهرنیو چارو وزارت ته دنده سپارلې څو په بهرنیو هېوادونو کې د افغانستان سفارتونه دې ته وهڅوي، چې د هېواد سوداګریزو توکو ته په یادو هېوادونو کې د بازارموندنې په برخه کې جدي ګامونه واخلي. دا کار د یو تشویقي اقدام په حیث د ستایلو وړ کار دی، مګر اړینه ده چې د هېواد او سیمې حالاتو ته په کتو د هېواد د صادراتي کچې لوړولو په برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړای شي.

له دې پرته افغان دولت باید د وېزو، مالیې او د پاکستان له لوري د افغان سوداګرو پر وړاندې د پولو تړلو ستونزې ته هر اړخیزې حللارې ولټوي او له کروندګرو سره د سړو خونو او همدارنګه د هغو توکو په کرلو کې مرسته وکړي، چې عاید یې ډېر او د هېواد د وارداتو کچه ورسره راښکته کېږي، څو د هېواد ډېرې اړتیاوې د وارداتي توکو پر ځای په کور د ننه پوره شي.

## د روغتیا نړیوال سازمان:

# د کرونا ویروس د ډېرو مثبتو پېښو له کبله په نړۍ کې نوی ریکارډ جوړ شوی

په داسې حال چې د کرونا ویروس لاهم په نړۍ کې په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی، د روغتیا نړیوال سازمان اعلان کړی چې پر دغه ویروس د اخته شویو خلکو شمېر یو تازه ریکارډ جوړ کړی دی.

د کرونا ویروسله خپرېدو راهیسې د روغتیا نړیوال سازمان د جولای په څلورمه په ۲۴ ساعتونو کې له دوو لکو د زیاتو مثبتو قضیو د ثبت خبر ورکړ چې ښیي دا ویروس لا هم په چټکۍ مخ په پراخېدو ده.

د روغتیا نړیوال سازمان ویلي چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د مثبتو پېښو کره شمېر (۳۲۶،۲۱۲) او د مړو شمېر بیا (۵۱۰۰) ته رسېږي. د یاد سازمان په خبره، دا یو تازه ریکارډ دی؛ ځکه تېر وار د جون په ۲۸ په ورځنۍ کچه د زیاتو پېښو د ثبتولو راپور ورکړل شوی و. هغه وخت څه باندې یو لک او نهه اتیا زره کسان په ۲۴ ساعتونو کې په ویروس اخته شوي وو.



د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کوویډ- ۱۹ ویروس د مثبتو پېښو شمېر نږدې یوولس نیمو میلیونو ته رسېدلی او دغه راز ۵۳۵ زره کسان د یاد ویروس له کبله مړه شوي او تر شپږ نیمو میلیونو بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو له مخې، د کرونا ویروس تر ټولو ډېرې مثبتې پېښې په امریکا متحده ایالتونو، برازیل او هند کې ثبت شوې دي.

د دغو شمېرو پر بنسټ په امریکا کې د کرونا ویروس ټولې مثبتې پېښې نږدې درې میلیونو ته رسېدلې او ۱۳۲ زره او ۳۹۳ تنه امریکایان یې تر دې مړه کړي دي.

له امریکا وروسته برازیل د یاد ویروس د یو میلیون او ۵۷۸ زره او ۳۷۶ مثبتو پېښو له اړخه دویم، دغه راز هند، روسیه او پیرو په ترتیب سره درېیم، څلورم او پنځم هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته وخت کې د امریکا په څلوېښتو ایالتونو کې د تازه شمېرو له مخې، په کرونا ویروس د اخته کېدو ګراف لوړ تللی او د جولای له پیله تر دې دمه د ډېرو ټېسټونو نتیجه مثبته ختلې ده.

په برازیل کې چې تر امریکا وروسته په ټوله نړۍ کې زیاتې مثبتې پېښې لري، د کرونا د مثبتو پېښو شمېر ډېر په چټکۍ مخ په زیاتېدو اعلان شوی دی.

د روغتیا نړیوال سازمان د کرونا ویروس د څپو د بیا خپرېدو ګواښونه کړي او ویلي یې دي چې باید د کاروبارونو په بیا پرانیستلو کې له پوره دقت کار واخیستل شي.

# جمعیت گوند؛

## له اخواني ارمانونو تر قومي دریځونو

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د بلخ د پخواني والي او د جمعیت گوند د اجرایه رییس عطامحمد نور په مشرۍ د جمعیت د رهبري شوراه له لوري په یوه بېساري او نادره گام کې د دغه گوند سرپرست مشر صلاح الدین رباني د گوند له موقت ریاسته گوښه او د کنگرې د اعلان له لارې یې د نوې رهبرۍ د راتگ خبر ورکړی.

همدارنگه رباني د جمعیت د رهبري دا گام غندلی او دوی یې فرصت طلبه، ماموریت فرصته او د بن د سازشنامي مسوولین بللي.

د جمعیت غوندي د یوه جهادي او توکمپاله گوند دغه خپل منځي فرکسیوني کشمکشونه که څه هم اوږده مخینه لري، ولې د رهبرۍ په کچه بیا نوي او د ۱۳۵۵ لمریز کال له اخواني ارمانونو سره یو مخ په ټکر کې ښکاري.

**په افغانستان کې د سیاسي او ایډیالوژیکو گوندونو توره مخینه**

که څه هم گوندونه په معاصرو ټولنو کې د قدرت پر ویش او د ولسونو د غوښتنو په بیان کې تر ټولو بې بدیله ځای لري، د بېلگې په توگه، سیاسي گوندونه د ملت جوړونې او د سیاسي قدرت په اداره کې د ملي ثبات د دوام، د قومي پرگنو د اوبدنې، د ټولنیز نظم د ټړلتیا او پر ټولنه د استبداد د مخنیوي، په یوه محور کې د قدرت له راټولېدو څخه د ساتلو او په ټوله کې د ولسواکو ارزښتونو پر بنسټ د یوه ملت د هیلو او غوښتنو استازیتوب کوي.

خو په افغانستان کې حالت په یوه بد ډول متفاوت دی، ځکه دلته گوندونه په لویه کې د عوام فریبانه او تیر ایستونکو شعارونو په ورکولو سره رامنځ ته کیږي او بیا وروسته ډېر ژر د سیاسي باج اخیستنو، اقتصادي گټو وټو، قومي اتنیکي غوښتنو او په ټولو کې د بازاري ورځچارو بهیرونو پر بنه بدلیږي.

د بېلگې په توگه، د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند د دې پر ځای چې د کور، کالي او ډوډۍ خپلو خیالي شعارونو ته د عمل بڼه ورکړي، د خپل ملت د غوښتنو پر خلاف ودرېدل او لومړنی کار یې د خپل مسلمان ولس پر عقایدو او باورونو له تیري څخه پیل کړل، د ټولنې پر روښانفکره برخه یې زیندانونه ډک کړل، د بېلابېلو پرگنو ولسي او دیني مشران یې قتل کړل او پر استالیني کردار سره یې د رعب او وحشت له لارې د حکومت کول پیل کړل.

ملت هم د دوی پر وړاندې پاڅون وکړ او دغه حزبي رژیم ډېر ژر شوروي قواوي د خپل ولس د ټکولو په موخه راوبللې، له دې سره وطن اشغال شو، په ټول افغانستان کې جگړه شروع شوه، هغه چې یو اړخ ته یې دفاع ملت او بل لور ته د سرو لښکرو په ملاتړ کې کمونیستي حکومت و.

جهادي گوندونو د روسانو او د هغه د لاسپوڅي حکومت له نسکورولو سره د ملي او اسلامي په نوم چې د ازادۍ گټلو، خپلواکۍ او اسلامي نظام داعیه داران وو، د دې پر ځای چې د ملت غوښتنې عملي، د ولس د هوساینې، امن او د هیواد د جوړونې لپاره کار وکړي، له یو او بل سره د قدرت د تر لاسه کولو پر لوبه سره کښېوتل او ټوله هڅه یې د ناوړه شعارونو له لارې د پردو په اشارو د ولسي انقلاب ماتول، د کابل او هیواد وراني، بې وزلي، د افغانانو یومخیزه کډوالي او په ټوله کې د افغان واحد ملت ویشل په قوم، ژبه، صمت او گوند سره وو.

**جمعیت گوند؛ ایډیالوژیک ارمانونه او بدنام قومي دریځونه یې**

په افغانستان کې د ولسواکۍ د لسیزي پر مهال یو څه چې د پام وړ او مهم بدلون په توگه ورڅخه د یوه ملي اوښتون په بحث کې یادونه کیدلای شي، هغه د بېلابېلو سیاسي ایډیالونو، او تفاوتونو پر بنسټ د نویو گوندونو رامنځ ته کېدل وو.

مگر موږ ټولو ولیدل او په یاد مو دي چې دغه گوندونه د وروستیو بدنامو سیاسي کردارونو پایلې د افغان حکومت او ملت د ماتېدو څه چې د گران افغانستان د جغرافیې ویشنې، تجزیې، نفاق او په لویه کې د بهرني یرغل، اشغال او د یوه ملت د بنسټیزو ارزښتونو عقیدي او گډ ملي هویت د توکړې توکړې کیدو تر درشله ورسول.

د جمعیت گوند وجودي فلسفه د ۱۳۵۱ لمریز کال د اسلامي نهضت د سیاسي اسلامپالنې له اخواني- مصري ارمانونو څخه چې د اسلامي تجدد او د مسلمانو پرگنو د ویښتابه او یووالي بحث دی، سرچینه اخلي.

مگر د دغه جریان ارمانونه ډېر ژر د کونړ د جهادي جبهې پر خلاف قومي، سمتي او حتی د ژبې او اتنیکي غوښتنو پر بنسټ بڼه بدله کړله او د کمونیستي بلاک پر خلاف د افغانانو د ملي انقلاب او دیني حماسو د تاریخي ولولو او د گران افغانستان د تاریخي خپلواکۍ مسیر یې هیر او د افغانانو د وحدت پر ځای یې د یوه قوم د مظلومیت او د بل قوم د جبر ستمي او د فرید مزدک د لاریونو شعارونه بدرگه کړل.

پر همدې بنسټ یې له نورو جهادي (اسلامي گوند، وحدت گوند) ډلو سره د کړي توافق خلاف کابل ونیو، د واک د انحصار او د خپلو قومي ارمانونو د پلي کولو افراطي هڅه یې وکړه.

دوی په خپل سر په فارسي نوي بانک نوټونه چاپ کړل، ملي سرود یې فارسي کړ، سیاسي قدرت یې په خپل میل وویشو، د مجاهدینو له مختلفو تنظیمونو سره یې په ژمنو کې ټگي بریگي وکړله، د هېواد له اداري سیستم څخه یې د پښتو ژبې پر ورکولو پیل وکړ، کابل یې تنظیمي جگړو ته ټیل واهه، له روسانو سره یې د ډاکتر نجیب الله د ملي مصالحې د بهیر خلاف پټې هوکړې او پروتوکولونه وکړل، پر شمال او جنوب یې د هیواد د ویش نغاره وډنگوله او په ټوله کې یې په افغانستان کې د دوو اسلامي حکومتونو چې یو یې د افغان ولس د ملي او اسلامي انقلاب له لارې د اسلامي حکومت ناکامول او بل یې د طالبانو د اسلامي او ملي حکومت پر خلاف د امریکایي یرغل او اشغال څخه دفاع او ورڅخه ملاتړ و، رامنځ ته کړل.

د بېلگې په توگه، استاد رباني د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر په میاشت کې له بي بي سي سره په یوه مرکه کې له امریکایانو پر پښتون مېشتو سیمو د غټو غټو بمونو د غورځولو غوښتنه کړې وه.

د امریکا له یرغل او اشغال وروسته دوی هر پښتون طالب او هر طالب القاعده معرفي کړل او القاعده چې په امریکایي فتوا سره ترهگر او بې محکمې د مرگ وړ بلل شوي وو، په پښتنو یې د هېواد د ۳۴ زندانونو سربېره د باگرام او گوانتانامو وحشي او کرغېړن امریکایي زندانونه هم ډک کړل.

**پایله**

که څه هم په ۲۰۱۱ ز کال کې د برهان الدین رباني له وژل کیدو وروسته د پلار پر ځای د زوی صلاح الدین رباني ټاکل کیدو د دغه گوند د خپل منځي کشمکشونو د هضم هڅه وشوه، مگر د صلاح الدین رباني له لوري بن ته د بن د سازشنامي اصطلاح کارول دا مانا ورکوي، چې جمعیت نه یوازې د ۱۳۴۷، ۱۳۵۱ او ۱۳۵۵ لمریز کلونو له عقدهيي- دیني او ملتپاله ارمانونو څخه خلاص او لرې شوی دی؛ بلکې د شخصي گټو، ځاني ماموریتونو او بهرنیو استخباراتي پنډونو نشې دوی تر ډېره د خپلو قومي شعارونو او گټو چې د پارلماني سیستم له لارې د نظام فدرالي کول، د افغان ملي هویت قومي تعریف، د اکثریت د ماتولو هڅه او لکه د ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۹ ز کلونو د واک پر گدۍ غصب او انحصار کې هم پاتې راغلي.

د گټو او قدرت دغسې فردي لوبه، د جمعیت د اصلي او متحدې رهبرۍ له منځه تلل، د جمعیت په د ننه کې د شخصي ثروت او قدرت د لسگونو جزیرو رامنځ ته کیدل، په بدخشان او پنجشیر ولایتونو پسې د دغه گوند محدودول، ناعادلانه امتیازات، د گوند په د ننه کې د ښځو، ځوانانو او تیکنوکرات قشر سره نه جوړتیا او په ټوله کې د سولې له لارې د نړیوال مشروعیت او ملاتړ سره د طالبانو بیا سیاسي قدرت ته راستنېدل هغه مسایل، بحثونه او پېښې دي چې جمعیت یې پاشلی، وېرولی او د دې امکانات شته چې تر سولې مخکې یا وړاندې یومخیز وپاشل شي، ټوټه ټوټه شي او یا د ظاهري یووالي د حفظ سربېره گوند په د ننه کې د شدیدو فرکسیوني سیالیو په ترڅ کې کمزوری او پر غیري مواثره بڼه دوام پیدا کړي.

دا ځکه چې جمعیت هېڅکله گوند نه و، ولې دا چې تصادفي پېښو، استخباراتي مصلحتونو او د نظام په اداره کې کمزورتیاوو یو او بل ته په لاس ورکولو سره دا گډوله مجموعه ساتلې وه، دا بېل بحث دی.

# د روسیې او امریکا ناندرۍ؛

## روسیه: امریکایي استخبارات په افغانستان کې د نشه یي توکو په قاچاق کې ښکېل وو



په افغانستان کې د لاسوهنو او جگړو د اوږدولو په تړاو د روسیې او امریکا د یو بل تورنولو په لړ کې، تازه روسیې ویلي چې امریکا په افغانستان کې د نشه یي توکو په قاچاق کې ښکېله ده.

د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر ځانگړی استازی ضمیر کابلوف وایي، هر افغان په دې پوهېږي چې امریکا په افغانستان کې د نشه یي توکو په قاچاق کې لاس لري او د گډوډیو تر شا ده. هغه تور پورې کړی چې په کندهار او بگرام هوایي اډه کې د امریکا د (CIA) الوتکې کېناستلې او په قاچاق کې ښکېلې وې. بلخوا د سیاسي او نظامي چارو شنونکي د افغانستان په اړه د امریکا او روسیې دغه ډول ځرگندونې د اندېښنې وړ بولي.

څه موده وړاندې په امریکا کې یوې معتبرې ورځپاڼې نیویارک ټایمز یو راپور خپور کړ او په هغه کې یې ویلي وو چې روسي استخبارات په افغانستان کې د جگړو د اوږدولو په لټه کې دي او په وینا یې، دوی طالبانو ته د امریکایي او نورو بهرنیو عسکرو پر وژلو انعام ورکاوه.

دغه ورځپاڼې ویلي وو چې دمگړۍ دغه راپورونه د امریکایي استخباراتي چاروکو او ولسمشر ټرمپ پر مېز پراته دي. روسیې په کلکه دغه تورونه رد کړل. په واشنگټن کې د روسیې سفیر له رسنیو سره په خبرو کې وویل چې دوی هېڅ وخت په افغانستان کې له ترهگرو ډلو سره همکاري نه ده کړې، بلکې د افغان حکومت همکاران او ملاتړي دي. دې مسئلې پر امریکایي حکومت هم نیوکې ډېرې کړې دي. امریکایي سناتورانو وویل چې ولسمشر ټرمپ د سر اعلی قوماندان په توگه د خپلو سرتېرو له وضعیت او دوی ته له متوجه گواښونو نه دی خبر.

اوس تازه د افغانستان په اړه د روسیې د ولسمشر ځانگړي استازي ضمیر کابلوف هم ویلي چې امریکا دې پر مسکو بېځایه تورونه نه پورې کوي. د ده په خبره، امریکا دې یو ځل دې ته پام وکړي چې استخباراتي مامورین یې په افغانستان کې د نشه یي توکو په قاچاق بوخت وو. هغه له ټاس خبري اژانس سره په خبرو کې ویلي: ((په افغانستان کې د مخدره موادو په قاچاق کې د امریکا د استخباراتي ادارې لاس لرل ټولو ته معلومه ده او د افغانانو په شمول له هېچا پټه نه ده. ټول دا د یو واقعیت په توگه ویني، ښه مثال یې د سي ای اې د غړو الوتکې دي چې له کندهار او بگرام څخه جرمني او رومانیا ته یې الوتنې کولې، خو هېچا یې پوښتنه نه ده کړې)).

له بگرام او کندهار المان او رومانیا ته د الوتکو له پروازونو د کابلوف موخه دا ده چې گواکې همدې مامورینو په دې الوتکو کې له افغانستان نشه یي توکي قاچاقول، خو دا خبره یې تر دې ډېره نه ده واضح کړې. د ده په خبره، دا داسې واقعیت نه دی چې د خلکو له سترگو پټ وي، بلکې هر افغان ته معلوم دی او هر افغان پر دې پوهېږي چې امریکا په افغانستان کې د روانو گډوډیو تر شا ده.

د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر ځانگړی استازی ضمیر کابلوف وایي، امریکا، روسیه په افغانستان کې د جگړو پر پراختیا تورنوي، خو په اصل کې په افغانستان کې له امریکایانو سره په مشترکو پروژو کې فساد په ډاگه کوي چې د امریکا استخباراتو د مخدره موادو قاچاق کې هم لاس درلود. د چارو شنونکي وایي، د افغانستان په اړه د روسیې او متحده ایالتونو د چارواکو دغه څرگندونې ښیي چې افغانستان عملاً د دوو قدرتونو ترمنځ د نیابتي جگړې په میدان بدل شوی دی. د ولسي جرگې غړی سید عظیم کبرزاني وایي چې د افغانستان په مسئله کې د امریکا او روسیې چارواکو ترمنځ د دغه ډول تقابل پایلې خطرناکه دي. د ده په خبره: ((موږ باید د دوو لویو قدرتونو د رقابت لپاره زمینه برابره نه کړو. موږ باید اجازه ور نه کړو چې دوی دلته خپل رقابتونه وپالي، دا د هېواد په زیان دي)).


د روسیې او امریکا ترمنځ داسې مهال د افغانستان په تړاو لفظي ټکر رامنځ ته کېږي چې امریکا د بین الافغاني خبرو د ژر پیلېدو غوښتونکې ده او روسیه هم وایي چې دا پروسه د دوی له بشپړ ملاتړه برخمنه ده. امریکا او روسیې په ځلونو پر افغان سوله گډې غونډې هم لرلې دي.

## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايۍ
### دیارلسم څپرکی




د یوه شبکه یي بازارموندونکي په توګه ستا دنده دا ده چې له خلکو سره اړیکې ولرې. هغوی د خپلو تولیداتو پېژندنې ته را جذب کړې. ستا معلوماتو او اطلاعاتو ته غوږ ونیسي او هغوی تعقیب کړې. وروسته چې هغوی له تا سره د تجارت کولو پرېکړه وکړي، نو خپله لېوالتیا او تجربه ور انتقال کړه او هغه څه چې تا زده کړي، له هغوی سره یې په زده کولو کې مرسته وکړه. ټکنالوژیکي توکي د هغوی په زده کړه کې مرسته درسره کولای شي.
ستا دنده د اړیکو جوړول، له خلکو سره خبرې، د فرصتونو لټول، د خلکو پېژندل او له هغوی سره د دې تجارت په پېژندلو کې همکاري کول دي.
په دې تجارت کې ځینې برخې شته چې ستا کارکوونکي یې تر تا ښې کولای شي. لکه، کنفرانس او روزنه ورکول. ځینې برخې باید یوازې ته وکړې، لکه د خلکو ترمنځ اړیکه او شبکه جوړول.
اصلي نظریه دا ده چې په شبکه یي بازارموندنه کې ته پیغام نه یې، بلکې پیغام رسوونکی یې. هغه ورځې ولاړې چې د اوسېدو په اطاق کې به د تولیداتو نمونو ته ناست وې یا به دې د تولیداتو د اوږدو لیستو بیې او ځانګړتیاوې یادولې. دا یوویشتمه پېړۍ ده. په شبکه یي بازارموندنه کې سامان الات او کارکوونکي هر څه ترسره کوي. ستا دنده د اړیکو ساتل او بلنه ورکول دي.
په هر صورت، د پورته خبرو مانا دا نه ده چې ته باید مهارتونه ونه لرې. ته باید مهارتونه ولرې. هغو مهارتونو ته اړتیا لرې چې موږ په لومړۍ دارايۍ کې ذکر کړل. مثلاً، پر ځان باور درلودل، له ردېدو سره مقابله کول، د اړیکو ساتل، نورو ته د خپلو تجربو د انتقالولو وړتیا، خلکو ته ارزښت ورکول، د خلکو روزل او نور. دا مهارتونه هر څوک لري. که تاسو د فوټبال سیالۍ جوړې کړې وي، د والدینو ټولنه مو جوړه کړې وي، د سطرنج سیالۍ مو جوړې کړې وي، د یوه سیاسي ګوند غړي پاتې شوي وئ، یا مو د لوبو د یوې کوچنۍ ډلې مشري کړې وي، نو هرو مرو پر دې پوهېږې چې شبکه څنګه جوړه کړې.
د تجارت د زیاتوالي او پرمختګ لپاره مسلکي او تکړه پلورونکو ته اړتیا نشته، بلکې داسې خلک باید و ګومارې چې له اساسي تجارت او اړیکو له زده کړې سره علاقه ولري چې په تشبث او کاري ډله جوړولو کې پرمختګ وکړې.
په پلور کې ډېر کم خلک مهارت لري. مګر په شبکه جوړونه، مشرۍ او ټیم جوړولو کې هر څوک مهارت لري. نو د دغه تجارت مخه ستاسو میلیونونو ګاونډیانو ته خلاصه ده. یانې دا تجارت د څو برابره کېدو، پرمختګ او توازن موندلو وړتیا لري. که یو ځل له شلو تنو څخه پنځوسو ته ورسېږې، تاسو د پرمختګ هغه لومړي مهارتونه ترلاسه کړل چې په مرسته به یې پنځه سوه، پنځه زره او تر دې هم زیاتو کسانو ته ورسېږې.
دا ټوله رهبري ده.


### څوارلسم څپرکی
### ۱۴. شپږمه دارايي: د مشرۍ بې پرتلې او غوره مهارتونه

کله چې مې په لومړي ځل د شبکه یي بازارموندنې نرۍ څېړله، نو په دې اړه زیاتو غونډو او کنفرانسونو ته ولاړم او لسګونو هغو ویناوالو ته غوږ شوم چې د خلکو د شخصي پرمختګ لپاره ویناوې کوي.
کله مې چې غوږ ورته ونیو، دوی په تش لاس تجارت پیل کړی و او اوس تر خپلې ټاکلې موخې او اندازې زیات شتمن وو. نو متوجه شوم چې دا خو خلکو ته هغه څه ورښیي چې ما ته زما شتمن پلار را ښودلي وو. یوازې یې د تجارت اصول نه ورښودل، بلکې له هغوی څخه یې مشران جوړول.
داسې به ښکارېدل چې دوی د پیسو په اړه خبرې کوي؛ خو اصلاً به دوی نور خلک هڅول چې له پټېدو را ووزي، پر وېره غالب شي او په خپلو موخو او خوبونو پسې ولاړ شي. د دغسې وینا لپاره باید یو ویناوال د مشرۍ مهارتونه ولري. دغسې ویناوې څکه مشرۍ ته ضروت لري چې د ډېرو غونډو وینا له موخو او خوبونو، له کورنۍ سره وخت تېرولو او ازادۍ څخه اخلي او ډېر لږ خلک په خپلو ویناوو کې د نورو خلکو د هڅولو لپاره له باور او الهام څخه کار اخلي.
دلته خبره دا نه ده چې دوی د وینا ټولې جملې یادوي او بیا یې د وینا پر وخت تکراروي، بلکې دوی سیده د خلکو له دروني اړخ سره خبرې کوي. دا ځانګړنه تر الفاظو ډېره لوړه ده. دغه واقعي مشري ده.

# بلخ

حشمت الله نوري

بلخ د افغانستان د شمال له مهمو ولایتونو څخه دی، چې د هېواد په کچه په لومړۍ درجه ولایتونو کې راځي. د دغه ولایت مرکز مزارشریف د سوداګریز او سیاسي ارزښت له مخې د شمال د مرکزي ښار حیثیت پیدا کړی دی، چې له کابل ښار څخه د شمال پر لویه لاره د میمنې او پلخمري ښارونو تر منځ پروت دی.
بلخ ولایت د ختیځ عرض البلد په ۲۹ درجو او ۳۱ دقیقو او د شمال طول البلد په ٦٨ درجو او ۲۸ دقیقو کې پروت دی. دغه ولایت شمال لور ته له تاجکستان او ازبکستان هېوادونو سره د افغانستان پوله جوړوي، ختیځ ته یې کندوز او سمنګان ولایتونه، لوېدیځ ته یې جوزجان ولایت او سوېل ته یې سرپل او سمنګان ولایتونه پراته دي.
د بلخ پراخوالی ۱٦٨۴۰ کیلومتره مربع دی چې د ټول هېواد ۲،٨۴ سلنه پراخوالی جوړوي. د وګړو شمېر یې څه کم ۲ میلیون تنه اټکل شوی، چې ٦۰ سلنه یې په کلیو او ۴۰ سلنه یې په ښارونو کې مېشت دي. بلخ د اقلیم له مخې په اوړي کې په پوره توګه تود او په ژمي کې یې هوا ډېره سړېږي. د پسرلي موسم یې په عمومي توګه مرطوب او باراني وي، چې د تودوخې درجه یې تر ۴۳ سانتي ګراد پورې رسېږي؛ خو په ژمي کې ډېره سړه هوا لري چې د سلواغې په میاشت کې یې د تودوخې درجه (۲ـ) سانتي ګراد ته ښکته کېږي. بلخ د اداري وېش له مخې پر مزارشریف ښار او حیرتان بندر سربېره، ۱۴ولسوالۍ لري: نهرشاهي، دهدادي، بلخ، دولت اباد، چمتال، شولګر، چهاربولک، کشنده، زارې، چارکنت، شورتپه، کلدار، مارمل او خلم. بلخ د افغانستان له هغو ولایتونو دی، چې نږدې ټول یاد قومونه په کې ژوند کوي.
بلخ د خپلې تاریخي، علمي او فرهنګي مخینې سربېره، اوسمهال هم د هېواد او سیمې په کچه په فرهنګي او علمي حوزو کې شمېرل کېږي. د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د بلخ پر ځمکه زردشت، یما، جلال الدین محمد بلخي، رابعه بلخي، ناصر خسرو بلخي، ابن سینا، دقیقي بلخي او نورو علمي او فرهنګي شخصیتونو ژوند کړی، چې خورا فرهنګي او علمي کارونه یې تر سره کړي دي، خو په معاصره دوره کې په ۱۳۰۰ لمریز کال د بیدار په نامه د دولتي خپرونې په چاپېدو سره په کې فرهنګي هلې ځلې په رسمي بڼه پیل شوې. په بلخ ولایت اوسمهال زیات شمېر فرهنګي ټولنې شته چې د دغه ولایت ډېرو ځوانانو ته یې د ادب په برخه کې د روزنې ښه زمینه برابره کړې ده.
بلخ ولایت چې څه باندې ٦۰۰۰ کلن او له اسلام څخه مخکې تاریخ لري، ډېرې تاریخي سیمې او تاریخي ابدې هم لري؛ خو ورته د نه پاملرنې او ور اوښتو طبیعي زیانونو له امله ډېرې ابدې او تاریخي سیمې یې مخ په خرابېدو دي. د نړۍ یوه مهمه لرغونې سوداګریزه لار ((وریښمو لار)) د بلخ له سینې تېره شوې، چې سوېل لور ته هند، له لوېدیځه ایران او له ختیځ څخه چین ته غځېدلې. د دغه لارې نښې نښانې اوس هم شته. بلخ چې د خپلې تاریخي مخینې له امله د نړۍ د دویم ښار لقب ورکړل شوی، لا هم په کې هغه نښې نښانې د تاریخي ابداتو په توګه پاتې دي، چې د دغه ولایت د څو زره کلن تاریخ شاهدي ورکوي.
د بلخ ولایت د اطلاعات او فرهنګ ریاست په چوکاټ کې په ۱۳۱۷ لمریز کال کې موزیم جوړ شو، خو په ۱۳٦۰ مه لسیزه کې دغه موزیم د جنګي زیانونو د اوښتو له وېرې کابل ته ولېږدل شو، چې هلته هم له جنګونو په امان نه شو. په دغه موزیم کې له اسلام څخه مخکې د اسلام او د معاصرې دورې اسلامي، تاریخي، فرهنګي او علمي اثار وو. کتابي نسخې، د اخمانشیانو او یوناني باختري دورې طلایي سیکې، جنګي اسباب، توري او ډالونه، لرغوني اثار لکه سترې سترې تېږې او داسې نور اثار هلته راټول شوي وو. د دغه موزیم د لېږد پر مهال ځینې اثار چې وزن یې ډېر و؛ په بلخ کې پاتې کړای شول، چې د هغو له ډلې څخه د امیر عبدالرحمان خان د دورې د افغانستان د سمنګان ولایت جوړ شوی جنګي توپ دی، چې اوس هم د بلخ ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په انګړ کې ایښودل شوی. له دې پرته د مزارشریف د حضرت علي کرم الله وجهه په مبارکه روضه کې هم یو موزیم شته، چې سلګونه اثار په کې خوندي دي. په دغه موزیم کې هم اسلامي او ځینې لرغوني اثار ځای پر ځای شوي.
بلخ د خپل ٦۰۰۰ کلن تاریخ په اوږدو کې بېلابېل علمي، سیاسي، فرهنګي، ادبي او قومي خلک روزلي چې دغه ولایت ته یې نه یوازې د افغانستان په کچه؛ بلکې د نړۍ په کچه شهرت ورکړی دی. په دغه برخه کې د زردشت او د مولانا جلال الدین محمد بلخي نومونو یادونه کولی شو، چې نړیواله شخصیتونه دي.
په بلخ کې رسنیزو فعالیتونو هم د پخوا په پرتله ډېره وده کړې ده، په دغه ولایت کې اوسمهال دولتي او نادولتي تصویري، چاپي او غږیزو رسنیو شمېر زیات شوی.
بلخ سربېره پر دې چې تاریخي، علمي او فرهنګي اوږده مخینه لري، د ولسمشر کرزي د دورې له پیله تر دې دمه په کې د پوهنې په برخه کې خورا ډېر کار شوی او ځوانانو ته یې د زده ګړو زمینه برابره کړې ده.
بلخ ولایت د صنعت په برخه کې د قالینو په تولید کې د هېواد په کچه ځانګړی ځای لري. د دغه ولایت له مرکز مزارشریف سربېره په کلدار او شورتپه ولسوالیو کې دغه صنعت ډېره وده کړې ده. په دغه ولایت کې نږدې ۱۱۰ شرکتونه د قالینو د اوبدلو او سوداګرۍ پر چارو بوخت دي. په دغه ولایت کې نږدې ۲٥۰۰۰ تنه د قالینو د اوبدلو له لارې د ژوند اړتیاوې پوره کوي. په دغه ولایت کې زرګري، خامکدوزي، مرۍ دوزي، غاړکۍ جوړونه، ښځینه جامې، د کور زینتي سامانونه له مهمو صنعتونو څخه دي، چې ډېری یې د ښځو له لورې تر سره کېږي. ترکاڼي هم د دغه ولایت له مهمو صنعتونو څخه ده. خو له تېرې لس کلنې دورې وروسته د ترکاڼۍ صنعت هم یو څه پرمختګ کړی دی. اوس نو د دغه ولایت ترکاڼ یوازې په اره او تېشه کړکۍ او دروازې نه جوړوي، بلکې له نویو عصري-برېښنایي وسایلو څخه ګټه اخلي او د تېر په پرتله په ښه توګه توکي برابروي. پوستین ګنډنه هم په بلخ ولایت کې له پخوانیو صنعتونو څخه ګڼل کېږي، چې په اوس وخت کې یې د خلکو د نه کارونې له امله د پوستین ګنډنې صنعت هم له منځه تلونکی دی. دغه صنعت د دغه ولایت په لرې پرتو سیمو کې چېرې چې په ژمي کې هوا ډېره سړېده او له ښاره لرې به خلک اوسېدل، نو د ژمي له سړو څخه د مخنیوي په موخه به یې د څارویو له پوستکو څخه پوستین جوړاوه. که څه هم په بلخ ولایت کې پخواني صنعتونه د له منځه تلو له ګواښ سره مخ دي، خو د ښځو تر منځ لاسي صنعت بیا په پوره توګه پرمختګ کړی دی. په مزارشریف ښار کې پر شادیان سړک د ښځو ځانګړی سوداګریز مارکېټ دی، چې ډېری مېرمنې په کې لاسي صنایع پلوري.
بلخ د تېرو لسو کلونو په اوږدو کې د فابریکو په برخه کې خورا ښه پرمختګ کړی دی، په دغه ولایت کې ډېرې فابریکې د خوراکي توکو لکه، د غوړیو، د څښاک توکو، اوړو، بیسکټو، پاپړو، شیریني بابو او داسې نورو فعالې دي. په دغه ولایت کې په درېیمه ګټه‌ګورۍ کې د تعمیراتي موادو د جوړولو فابریکې هم ډېرې دي.
بلخ ولایت د نورو هراړخیزو ارزښتونو تر څنګ د کانونو په برخه کې هم د افغانستان خورا غني ولایت دی. په دغه ولایت کې په دې وروستیو کې د کانونو وزارت او د امریکا د تحقیقاتي مرکز په مرسته د شوې سروې له مخې، د بلخ شمال لور د امو سیند په اوږدو کې، چې پیل یې له چهاربولک ولسوالۍ څخه کېږي، د نفتي موادو ٦ کانونه کشف شوي، چې د نفتي موادو د شتون کلنی اټکل یې ٦،٨ میلیونه بېلره شوی. د دې تر څنګ، په دغه ولایت کې د لسګونو معدنونو سربېره د ګازو، د مالګې او د شیشک (هغه مواد چې د شیشو په جوړښت کې ورځنې کار اخیستل کېږي) عمده کانونه شته.
د بلخ ولایت مرکز مزارشریف ښار د خپل موقیعت په مرسته د هېواد په کچه په سترو سوداګریزو ښارونو کې راځي. د دغه ښار د سیاسي او فرهنګي ارزښت تر څنګ د حیرتان بندر شتون او پرې پرته د اقینې بندر لارې مزارشریف ته سوداګریز ارزښت ورکړی. د حیرتان بندر له لارې د افغانستان صادرات د پول له لارې په رېل او د امو سیند له لارې په کښتیو کې صادرات او واردات کېږي. له دغه بندر څخه د صادراتو په برخه کې وچه مېوه او د وارداتو په برخه کې نفتي مواد، لرګي او نور ساختماني توکي وړل او راوړل کېږي. په حیرتان بندر کې افغان سوداګرو هم د یاد وړ پانګونه کړې چې ډېره یې د نفتي توکیو د بنسټونو په برخه کې ده. دغه صادرات د ازبکستان له لارې د منځنۍ اسیا هېوادونو تر څنګ اروپایي هېوادونو ته هم استول کېږي.
د دغه ولایت نږدې ۷٥ سلنه وګړي پر کرنه بوخت دي او له همدې لارې د ژوند اقتصادي تشه ډکوي. دغه ولایت که څه هم د پراخو دښتو لرونکی دی، خو د اوبو د کمښت له امله یې کرنیزه ځمکه هم ټوله نه کرل کېږي. په دغه ولایت کې د روانو دوو سیندونو شولګر او بلخاب اوبه تر دې کمې دي، چې د آبي ځمکو د خړوب تر کچې اوبه هم په کې نه برابرېږي.
په بلخ کې ډېری وخت کروندګر په سیمو کې د باراني اوبو د تم کېدو په موخه سترې سترې کندې جوړوي او کرنیزې ځمکې پرې خړوبوي. غنم د بلخ ولایت له مهمو حاصلاتو څخه ګڼل کېږي، چې ورپسې پنبه، وربشې، جوار او وریجې د دغه ولایت د مهمو کښتونو ځای خپلوي. د مېوو په برخه کې پسته د دغه ولایت له مهمو کښتونو څخه ده؛ خو تر څنګ یې دغه ولایت د انګورو او خوږو خټکیو په کښت کې هم ښه نوم لري. پر دې سربېره، په دغه ولایت کې بېلابېلې مېوې لکه زردالو، الو، ، بویي، منې، بادام، توت، شفتالو، هندواڼې، ګیلاس، انځر او داسې نورې هم شته. دغه ځمکې د غلو دانو او سبزیجاتو د حاصلاتو له پلوه هم بې سارې دي، غنم، وربشې، لوبیا، کنجد، زغر، زیره، نخود، عدس او د سبزیو په برخه کې لکه لېړو، ګلپې، مرچ، کچالو، پیاز، مولۍ، ګازرې، ګندنه، نعنا، ګشنیز، کدو، بادرنګ، تره، کرم، شلغم، رومي او تور بادنجان او داسې نور د دغه ولایت کرنیز حاصلات جوړوي. په بلخ ولایت کې د تېرو لسو کلونو په اوږدو کې د پخوانیو دودیزو لوبو تر څنګ عصري لوبو هم ښه پرمختګ کړی. په دغه ولایت کې د نارینه وو تر څنګ د نجونو تر منځ هم د لوبو لېوالتیا ورځ تر بلې ډېرېږي. په دغه ولایت کې په دودیزو لوبو کې له ټولو ډېره عامه لوبه، چې لا هم ډېر مینه وال لري، وزلوبه (بزکشي) ده. دغه لوبه د مزارشریف ښار سوېل لور ته ستر لوبغالی لري، چې په ملي ورځو او مني موسم کې په خورا شور تر سره کېږي. د دې تر څنګ لا هم د دغه ولایت په کلیو کې د زلمکیانو تر منځ د هېواد عامې دودیزې لوبې لکه، غېږنیونه، منډې، تیره اچونه او داسې نورې تر سره کېږي. په عصري لوبو کې فوټبال، کرکټ، ټېبل ټینس، والیبال، سکېټ، سوک وهنه، تیکواندو، کانفو، زیبایي اندام او داسې نورو هم ډېر مینه وال پیدا کړي دي.



اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | |
| € | ۸۵،۵۰ |
| Rp. | ٤٦۰ |
| ₹ | ۹۸۰ |
| ¥ | ۱۰،٦۰ |
| £ | ۹٤ |

## بېړنۍ شمېرې

| | |
|---|---|
| پولیس | 119 - 100 |
| امبولانس | 112 |
| اتاترک روغتون | 0202500312 |
| ملالۍ زېږنتون | 0202201377 |
| وزیر محمد اکبر خان روغتون | 0202301360 |
| رابعه بلخي روغتون | 0202100439 |
| د کرونا روغتیایي مرکز | 166 |

همیانی

# د بریالي ژوند لپاره دغه عادتونه خپل کړئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د ټولو انسانانو یوه غوښتنه د بریالي او ښه ژوند تجربه کول او ورته رسېدل دي، خو دا هر څه خپلې کړنلارې لري چې باید عملي یې کړئ، څو موخې ته ورسېږی. له ځان سره فکر وکړئ چې د کوم کار کول مو په ژوند کې بنیادي بدلون را ولي، هر یو یې چې په نظر مهم درغلو، لومړی یې تر سره کړئ.

له دې کاره وروسته درته یوه د یادابنت کتابچه جوړه کړئ او د هغو کارونو لپاره مهالوېش جوړ کړئ، چې باید تر سره یې کړی. د درېو میاشتو کارونه مو داسې تنظیم کړئ چې د اړینوالي له مخې یې په کټه‌گوریو ووېشئ.

د بېلگې په توگه، لومړی ټوله میاشت په پام کې ونیسئ، له هغې وروسته اونۍ او هغه کارونه چې ډېر اړین دي، همدا نن ورځ یې تر سره کړئ. هره شپه باید د سبا لپاره ورځنی مهالوېش ولری.

هره شپه باید له خپل ځان سره قول او وعده وکړئ، چې سهار له خوبه پورته شوې له اوداسه او لمانځه وروسته لومړی باید مهم او اړین کارونه تر سره کړی. له ځانه مو دغه عادتونه لرې کړئ چې سهار له خوبه پورته شی او له ځان سره ووایی: «نن ولا چندان جوړ نه یم، دا کارونه به سبا ته پرېږدم.» یا دا چې لومړی باید مسیجونه او ایمیلونه چک کړم او بیا د مهالوېش له مخې په هغو کارونو پسې ورسېږم چې ډېر



درته مهم دي. ځان ته ووایئ: «یو قانون شته، هغه هم دا چې هره ورځ بې له کومې استثنا څخه لومړی باید مهم کارونه تر سره کړم.»

د بېلگې په توگه، سبا له یوه مهم کس سره د لیدلو وعده لری. په ذهن کې مو داسې تصویر جوړ کړئ چې سبا به له خیره هر څه سم روان وي او ټول کارونه به مو ډېر ښه پر مخ ځي او له خپلو ټولو کړنو به ډېر راضي یاستی. یا دا چې سبا غواړی څو مختلفو ځایونو ته لاړ شی، ځان مو داسې عیار کړئ چې هر یوه ته په خپل وخت رسیدگۍ وکړای شی او د دې کارونو د تر سره کولو لپاره مو ځان تر خپله وسه تشویق کړئ. په دې سره به مو خپل لا شعور ته هر څه په گوته کړي وي او د خوب پر مهال به هم د سبا لپاره د دې ټولو کارونو تر سره کولو ته تیاری ولری. داسې چې ان د خوب پر وخت به مو هم خپل لومړني کارونه تر سره کړي وي او داسې به ښکاری چې په خوب کې به هم فعالیت کوی.

فکر او پروگرام جوړول د هر کار لومړی گام دی؛ خو که د هر کار د کولو لپاره ډېر وخت په نظر کې ونیسی او یا یې په اړه ډېر فکر وکړی، دا کړنه به دې د دې لامل شي، چې ورو ورو د خپلو موخو له تعقیب پاتې شی. د یوه کار په اړه ډېر فکر کول او په کار کې ځنډ کول د دې لامل گرځي، چې ډول ډول بهانې جوړې کړی او د دې کار د کولو لپاره خپل وخت ضایع کړی او بالاخره خپله یې د نه کولو یو دلیل جوړ کړی او له کار کولو پاتې شی.

که غواړی چې یو نوی کار تر سره کړی، خو په دې برخه کې کافي تجربه نه لری، که هر څومره هڅه هم وکړی بیا به هم له دې کار د پام وړ لاسته راوړنه ونه لری. د اندېښنې وړ خبره نه ده، ځکه هېڅوک هم په لومړي سر کې مسلکي عمل نه شي کولای. له «هېڅ» نه لړ گټه هم ښه ده. په راتلونکي کې باید له دې څخه زیاته تمه ولری. داسې فکر وکړئ چې د ډېرو لویو کارونو لپاره مو مهالوېش او پروگرام جوړ کړی، خو تر اوسه لاس پکار شوی نه یاستی.

زیاتره کسان مخکې له دې چې کوم کار پیل کړي، په اړه یې زیاته اندېښنه کوي، دوی داسې فکر کوي چې پر وړاندې یې د ستونزو یو دیوال پروت دی، خو که په دې بریالي شول چې کار یې پیل کړ او له نیمایي وړ تېر شول، نو پاتې کار به یې ډېر په لېوالتیا سره تر سره کړي، نو تاسې هم بې له کوم ځنډ څخه حاضر شئ او کار پیل کړئ، څو نیمایي ته ورسېږی او د پاتې کار لپاره په خپل ذهن کې شور او شوق پیدا کړئ.

د هر کار له تر سره کولو وروسته، خپل ځان نور هم تشویق کړئ او کوم کار مو چې تر سره کړی، پر ځان وویاړئ. حتی کله کله د ځان لپاره ډالۍ واخلئ او له ځانه مننه وکړئ. هر مقطعي کار چې تر سره کوی، داسې فکر وکړئ چې دې ته ورته نور مقطعي کارونه او ان تر دې هم لوی په مخ کې لری. دغه د ځان تشویقول او هڅول په تاسو کې داخلي انرژي نوره هم پیاوړې کوي او د نورو کارونو لپاره درته موقع برابروي.

# مشرانو جرگه: د سناتورانو پرله پسې رخصتۍ او غیابت د شرم وړ دی

د مشرانو جرگې رییس د دې جرگې د یو شمېر غړو غیابت د شرم وړ گڼي او له خلکو یې د غیر حاضرۍ له امله د لړ کار په ترسره کېدو ښښنه وغوښته او ویې ویل چې له دې وروسته به له غیر حاضرو کسانو سره جدي چلند کوي.

د مشرانو جرگې د رییسانو د پرېکړې پر اساس، د تېرې ورځې په ناسته کې پر ازاد بحث سربېره د قانون د اوو مسودو په اړه بحث او رایې ته یې وړاندې کول په اجنډا کې شامل وو، خو له دې امله چې د جرگې نصاب پوره نه و، له تاییده پاتې شوې.

د مشرانو جرگې رییس فضل هادي مسلمیار د دې جرگې په پرونۍ ناسته کې وویل: «د رییس په توگه ماته د شرم ځای دی چې موږ په څو پرله پسې ناستو کې



نصاب نه درلود او نن هم نصاب نه لرو، له دې امله له خلکو ښښنه غواړم... زما لپاره دردوونکې ده چې موږ نه شو کولای ۳۵ غړي چې نصاب پرې تکمیلېږي، راټول کړو، نن ۲٦ غړي شتون لري او نصاب نه پوره کېږي.»

هغه زیاته کړې چې د دې جرگې د یو شمېر غړو غیر حاضري د دې سبب شوې چې دغه جرگه ونه شي کولای د یو شمېر هغو تقنیني قوانینو او فرمانونو برخلیک چې دې جرگې ته د تایید لپاره استول شوي، تعیین کړي.

هغه د یادې جرگې دارالانشا ته سپارښتنه وکړه، څو د جرگې له ټولو غړو سره اړیکه ونیول شي چې په نورو ناستو کې شتون ولري او هغه قوانین او فرامین چې مجلس ته راغلي، برلیک یې وټاکل شي او د دوبي له رخصتیو وروسته مودې پاتې نه شي.

د اساسي قانون پر اساس، د ملي شورا غړي د زمري په لومړۍ نېټه د اوړي رخصتیو ته ځي او بیا د وږي په ۱٦مه خپل کار پیلوي.

مسلمیار همداراز وویل چې وروسته له دې د دې جرگې په عمومي ناستو او دایمي کمېسیونونو کې حاضري اخیستل کېږي او هغه غړي چې غیر حاضر وي، قانوني چلند به ورسره وشي.

د مشرانو جرگې رییس د دې جرگې غړو ته په خطاب کې وویل: «که مو غیر حاضریو دوام پیدا کړ، بیا گیله مه کوئ، له درېو دندو چې د ملي شورا غړي یې لري، یوه یې قانون جوړونه ده او د دې جرگې د یو شمېر غړو غیر حاضري سبب شوې چې یاده جرگه په دې برخه کې له نیوکو سره مخ شي.»

# کوچیان: په میدان وردگو کې د زورواکو له خوا روان تاوتریخوالی نور د منلو نه دی

په میدان وردگو کې لسگونو کوچیانو پرون د لاریون پرمهال خبرداری ورکړ چې په دغه ولایت کې د دوی پر وړاندې روان تاوتریخوالی نور ورته د منلو نه دی.

لاریون کوونکي ویلي: «دا لاریون مو په دې خاطر کړی چې زموږ غږ څوک نه اوري زموږ ټول څرځایونه خاورې شول، حکومت مو غږ نه اوري، د دې لپاره زموږ غږ نه اورېدل کېږي چې دلته جاسوسان دي او نه غواړي دغه ستونزه حل شي، که کوچي ته زیان ورسېږي، د افغانستان اقتصاد له زیان سره مخ کېږي.»

یوه بل لاریون کوونکي هم ویلي: «موږ له هزارگانو سره ستونزه نه لرو، له هغه چا سره ستونزه لرو چې له نورو ځایونو نه راغلي او زموږ مالونه او ټوله دارایي یې راته غصب کړې له هغو سره موږ ستونزه لرو او حکومت چې موږ ته توجه نه کوي، حتماً یا کمزوری دی او زور یې نه رسېږي.»

دوی چې شمېر یې لسگونو تنو ته رسېده،



له افغان حکومت وغوښتل چې په دغه ولایت کې دې ژر تر ژره د دوی پر وړاندې د روان تاوتریخوالي مخه ونیسي.

په ورته وخت کې په میدان وردگو کې د کوچیانو شورا مشر همایون عزیزي د دغه لاریون په اړه ازادي راډیو ته ویلي: «کوچیان د دې هېواد وگړي نه دي؟ کوچیان په دې هېواد کې د ژوند حق نه لري؟ موږ له هزاره وروڼو سره ستونزه نه لرو، خو یو شمېر کسان دي چې نه غواړي موږ په ارامۍ سره ژوند وکړو، یو شمېر کسان غواړي دغې قومي جگړې ته لمن ووهي.»

په میدان وردگو ولایت کې د کوچیانو او هزاره گانو ترمنځ وسله والې نښتې له ډېر مودې راهیسې روانې دي چې تر دې دمه یې په اړه جدي اقدام نه دی شوی.

دوې اونۍ وړاندې د میدان وردگو ولایت د بهسود ولسوالۍ په کجاب سیمې کې چې ډېری اوسېدونکي یې هزارگان دي او ځایي کوچیانو ترمنځ وسله واله نښته وشوه. که څه هم د دغې وسله والې نښتې د تلفاتو په اړه کره جزیات ورنه کړل شول، خو په ولسي جرگې کې د میدان وردگو ولایت پخواني او د کابل ولایت اوسني غړي سید حسین ناصري په خپله فېسبوک پاڼه لیکلي وو چې په دغه نښته کې کوچیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

په ورته وخت کې غلام حسین ناصري له سیمې څخه بل روایت لري. هغه وایي، طالبانو د کوچیانو په جامه کې د سیمې پر خلکو بریدونه وکړل او ځایي کسان یې د دفاع لپاره راپاڅېدل.

په ورته مهال په ولسي جرگې د د دایکنډي د خلکو استازی شرین محسني له ازادي راډیو سره په خبرو کې ویلي، د دې ستونزې د دوام لپاره یو شمېر مشخصې کړۍ کار کوي. د نوموړې په وینا، حکومت اصلاً په دې تړاو اراده نه لري.

هغه زیاته کړې: «یو شمېر کسان نه غواړي دغه ستونزه حل شي، کنه موږ حکومت لرو، قانون لرو او دغه حکومت کولای شي دغه ستونزه حل کړي، زه فکر کوم دغه ستونزه هم د خبرو له لارې حل کېدای شي او هم د قانون له لارې.»

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



وایګل چاپ

WAYGAL Printing Co.

WAYGAL PRINTING CO

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

STAY HOME STAY SAFE

+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96

waygalprinting.co@gmail.com

waygalprinting.co

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د جولای شپږمه | ۵٦۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۳ | لمر ختل ۰٤:٤٦ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۳:٤۵ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۵

## نړۍ



### د روغتیا نړیوال سازمان:
## د کرونا ویروس د ډېرو مثبتو پېښو له کبله په نړۍ کې نوی ریکارډ جوړ شوی


۳

## چهره های سیاسی: افزایش حضور جنگ‌جویان خارجی در شمال کشور نگران کننده است



شماری از چهره‌های سیاسی از شمال کشور، از افزایش حضور جنگ‌جویان خارجی در برخی از ولایت‌های شمالی و شمال‌شرقی، هشدار می‌دهند.
به گفتهٔ آنان این جنگ‌جویان دسته دسته از کشورهای همسایه وارد افغانستان شده‌اند و در بخش‌هایی از ولایت‌های چون بدخشان، تخار، کندز، جوزجان و فاریاب جابجا شده‌اند.
عطامحمد نور، رئیس اجرایی حزب جمعیت اسلامی گفت: «امروز از بدخشان گرفته تا قندز تا قسمت‌هایی از تخار و قسمت‌هایی از درزاب و قوش‌تیپه جوزجان، المار و قیصار فاریاب و همچنان ولسوالی کوهستانات سرپل و بخش‌های تیربند ترکستان که همین‌طور می‌رود تا بادغیس، خارجی‌های تُندرو و افراطی جابه‌جا استند و سخت فعالیت می کنند.»
در عین حال به‌گفتهٔ شماری از اعضای پیشین و برحال ولسی جرگه، در بخش‌هایی از ولایت‌های شمالی، جنگ‌جویان خارجی خانواده‌های شان را هم با خود دارند و تمامی‌شان مسلح استند. فوزیه کوفی، نمایندهٔ پیشین مردم بدخشان در ولسی جرگه گفت: «تعدادی با این حلقات وصل شدند و در منطقه راغستان (بدخشان) گشت وگذار می کنند و در حالت جنگ استند.» فدامحمد الفت، عضو دیگر ولسی جرگه نیز افزود: «قطعاً ما و همه مردم ما که در سمت شمال زنده‌گی می‌کنند، فوق‌العاده از ناامن‌شدن ولایات شمال نگرانی دارند و این باعث صدمه رساندن به گفت‌وگوهای صلح می‌شود.» در همین‌حال، از رفتن دسته‌دسته جنگ‌جویانی که در داخل کشور فعال استند به شماری از ولایت‌های شمالی نیز گزارش‌هایی پخش شده‌اند. پولیس بغلان به تازه‌گی سه مرد را که می‌خواستند از پروان به بغلان بروند بازداشت کرده‌است.

## عراق: که امریکا له هوکړې سره سم عمل ونه کړي، سخت زیان به وکړي




د عراقي پارلمان امریکا ته خبرداری ورکړی چې باید شویو هوکړو ته ژمن واوسي. د عراق د پارلمان د کورني امنیت غړي علي الغانمي ویلي، امریکا د عراق په تر ټولو امنه سیمه کې له سفارت څخه نظامي اډه جوړه کړې ده.
د هغه په خبره، امریکا په دې کار سره د ډیپلوماټیکو سیمو اوسېدونکي وېرولي او دا کار د ټولو هغو هوکړو له موادو سره په ټکر کې دی چې دوی له عراق سره لاسلیک کړې دي.
نوموړي له العلومه ویبپاڼې سره په خبرو کې دغه راز ویلي، امریکا دې تر خط پښه نه اړوي، ګنې سخت زیان به وکړي.
د یادونې ده چې وړمه ورځ یو شمېر رسنیو داسې راپورونه خپاره کړل چې په عراق کې د امریکا په سفارت کې نظامي تمرینات شوي او خلک یې سخت وېرولي دي.
د عراق پارلمان هم ویلي چې امریکایي عسکرو په بغداد کې له خپل سفارت نظامي اډه جوړه کړې او لسګونه ډوله سپکې او درنې وسلې یې پکې ځای پر ځای کړې دي. د عراق د پارلمان د ملي امنیت کمېټې ویلي، امریکا د ټولو نړیوالو قوانینو پر خلاف په بغداد کې په خپل سفارت کې لسګونه سرتېري ځای پر ځای کړي، درنې وسلې یې راوړې دي او هره ورځ نظامي تمرینات ترسره کوي. د یاد هېواد له امریکا غوښتي چې نړیوالو قوانینو ته درناوی وکړي او د ډیپلوماټیکو او نړیوالو اړیکو د اصولو خلاف ډیپلوماټیکه ساحه دې په نظامي اډه نه بدلوي.

## روسیه: له امریکا سره مو د جي- ۷ سازمان په تړاو هېڅ خبرې نه دي کړې

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت وایي، مسکو د جي-۷ هېوادونو په غونډه کې د ونډې په اړه له امریکا سره خبرې نه دي کړې. د یاد وزارت مرستیال سرګي ریابکوف تاس خبري اژانس ته ویلي: «موږ دا ډول خبرې نه مخکې لرلې دي او نه یې اوس لرو.» د ریابکوف دا څرګندونې وروسته له هغې کېږي چې په روسیه کې د امریکا سفیر جان سولیفن د جولای پر درېیمه «ار. بي.سي» تلوېزیون ته ویلي وو چې واشنګټن د روسیې د بهرنیو چارو وزارت او د جي-۷ له نورو غړو هېوادونو سره په خبرو بوخت دی چې ایا په دې ډله کې د روسیې لپاره د یوه مناسبه رول ځای شته که څنګه. په دې ډله کې د روسیې د بېرته راوستلو مسئله د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ په مې میاشت کې هغه مهال مطرح کړه چې دا غونډه د کرونا ویروس د خوربدو له کبله د سپټمبر میاشتې ته وځنډول شوه. ولسمشر ټرمپ هغه مهال وویل چې دی غواړي د استرالیا، روسیې، جنوبي کوریا او هند په ورګډولو سره د دې غونډې د بلونکو لېست وغځوي، خو د کاناډا او فرانسې په ګډون هېوادونو د نوموړي پر دغه نظر انتقاد وکړ. روسیه پخوا د دې ډلې غړې وه، خو په ۲۰۱۴ ز کال کې د کریمیا له الحاق وروسته د جي-۷ هېوادونو له لېسته وایستل شوه.


## ژونـــــد

## مسوولیت او کچه یې



مسوولیت منل هغې مرحلې ته ویل کېږي، چې تاسو د خپلو کړنو په اړه ځواب ورکوونکي اوسی او په وړتیا مو حساب وشي. دغه راز څومره چې ستاسو عمر لوړېږي، د مسوولیتونو کچه هم ور سره لوړېږي او د خپلې راتلونکې مسوول کېږی. هېڅوک نه شي کولای د هغه څه په اړه چې ستاسو د ژوند اړوند دي، پرېکړه وکړي. په دې برخه کې توپ ستاسو پر څمکه او ستاسو په اختیار کې دی. موږ هغه وخت تجربې خپلوو چې د خپلو خاطرو او کړنو د تهدید پر ځای د خپلو کړنو او خپلې راتلونکې په اړه مسوولیت منونکي اوسو.
دا ژوند په اصل کې زموږ خپل مال دی. زموږ اعمال او کړنې هغه که ښې وي او که بدې، دا موږ یو چې مسوولیت یې پر خپله غاړه واخلو. د ژوند سم لیدلوری همدا دی. په ژوند کې هر څوک له ماتې سره مخ کېدای شي، خو که یې دا زده کړي وي او یا یې زده کړي چې نور خلک باید د خپلو کړنو له کبله ګرم ونه بولي او وېې نه رټي، په اصل کې یې هېڅ ماتې نه ده خوړلې.

## سامسونګ کې ګلکسي نوټ۲۰ لړۍ معرفي کوي



سامسونګ کمپنۍ غواړي د اګست په پنځمه د یوې غونډې له لارې د ګلکسي نوټ۲۰ لړۍ ځیرکو موبایلونو معرفي وکړي. په دې غونډه کې کېدای شي د ګلکسي واچ۳ او ګلکسي فولډ۲ تر څنګ د دې کمپنۍ ځینې نور ځیرک وسایل هم کاروونکو ته معرفي او خرڅلاو ته د وړاندې کېدو نېټه یې اعلان شي. د سامسونګ کمپنۍ دغو ټولو وړاندې کېدونکو ځیرکو وسایلو ډیزاین او ځانګړنې له وړاندې افشا شوې، خو دا لومړی ځل دی چې د ګلکسي نوټ۲۰ د لړۍ ځیرکو موبایلونو بیې په اړه معلومات خپرېږي. دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې وړاندې خپله سامسونګ کمپنۍ په خپله روسي وېبپاڼه کې د ګلکسي نوټ۲۰ الټرا تصویرونه خپاره کړل، هغه څه چې د ټکنالوژۍ ځینې کارپوهان یې تېروتنه بولي. د دغو تصویرونو خپرېدل د ګلکسي نوټ۲۰ د مینه‌والو تلوسه نوره هم ډېره کړې ده، خو د بیو په اړه یې لا پوښتنه لري. که څه هم د سامسونګ ځیرکو موبایلونو مینه‌وال په دې باور وو چې د ګلکسي نوټ۲۰ لړۍ د ځیرکو موبایلونو بیه به د کرونا وایرس له امله د تېر کال په پرتله ټیټه وي، خو افشا شوي معلومات ښیي چې د دغه ځیرک موبایل بیه به ډېره زیاته لوړه وي.




## ماسټر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af | 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank